# په یهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه يې د عبادت ځايونه ګرځولي

له عائشې او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی (دواړو) ویلي: کله چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم - د مرګ حالات- راغلل، نو خپل مخ يې په خپل يو ټادر سره پټ کړ، کله به چې پرې سختي راغله نو لرې به يې کړ، بیا يې پدې حال کې وویل: «په یهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه يې د عبادت ځايونه ګرځولي» د هغوی د کړنو په اړه يې خلکو ته خبرداری ورکاوه.
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

عائشه او ابن عباس رضي الله عنهما خبر راکوي چې کله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته مرګ راغی نو خپل مخ يې په یوې ټوټې (ټوکر) سره پټ کړ، نو کله به يې چې د مرګ د سختیو له امله ساه تنګه شوه بیا به يې لرې کړه، نو پدې سختو حالاتو کې يې وویل: په یهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي او هغوی دې له خپل رحمت څخه وشړي؛ ځکه چې هغوی د خپلو پیغمبرانو په قبرونو جوماتونه جوړ کړل، او که چېرته دې کار خطر نه درلودی نو هېڅکله به يې پداسې سختو حالاتو کې د دې خبرې يادونه نه وی کړې، لدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت د دې کار په څېر له کولو څخه منع کړی دی، ځکه چې دا د یهودو او نصاراو عمل دی، او ځکه چې دا عمل شرک ته د رسېدو لار ده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3330